AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوال او شناند نظر محمد مطمئن ۲۰۲۰/۱۱/۲۰

# ما وبخښه، نشم ويلای

۶ کاله وړاندي له شهيد مژده سره د هغه په موټر کي د کابل ښار يو کتابتون ته روان وم، په لاره يې وويل چي زما "مژده" د وژلو لپاره دوه تنه ګمارل شوي وو، مګر الله ج ژوندی پاتي کړم، او کله چي په کابل کي د ترور پټي کړۍ فعاله شوي، دوه ځله نور هم مژده صاحب ماته وويل چي کيدای شي، زه ووژل شم.
د اپريل پر ۴مه ۲۰۱۹، وحيد مژده ماته وويل: "ځينو کسانو راته ويلي چي د يوې ځانګړې ډلې لخوا هڅې پيل شوي چي ما ترور کړي."
د جون پر ۲مه ۲۰۱۹، شهيد مژده زموږ په کور کي بياځل راته وويل: "کيدای شي ډير ژر مي درڅخه ووژني."
مژده صاحب ته مي وويل چي په دې راز دي کور کي څوک خبر کړي کنه، هغه وويل:"يوازي اشاره مي ورته کړي، خو د دې لپاره چي کورنی مي په ډيره انديښنه کي وانچول شي، په تفصيل مي خبره نه ده ورته کړې، او هسي هم زه وژل کيږم."
اګست ۲۰۱۹ کي يو درونද مشر وغوښتلم، د هغه په خيره کي خفګان له ورايه ښکاره و، ويې ويل:"دلته ډير مه کښينه، عاجل ورشه، مژده صاحب پيدا کړه، ورته ووايه چي له کوره بهر مه راوځه، او لمانځه ته مسجد ته مه ځه، ستا د کور او مسجد ترمنځ لاره کي دي وژني، ژر ورشه."
زما لپاره هم په کابل ښار کي ناوخته ګرځيدو امنيتي ستونزي درلودلي، مژده صاحب پوهيدی چي ماښام مهال زه نه وتلم، هغه پوهيدی چي د کومي مهمي خبرې لپاره ورغم، پوښتنه مي ورڅخه وکړه، د ماښام لمونځ دي چيرته وکړ، ويې ويل:"مسجد ته تللی وم."
مژده صاحب ته مي وويل: "هغه درونද مشر راته وويل چي نور له کوره بې وخته مه ووځه، او لمونځ په کور کي کوه، ستا د کور او مسجد ترمنځ لاره کي دي وژني."
داچي مژده صاحب پوهيدی چي ويشتل کيږي، د هغه په خيره دا ډير ويرونکي پيغام بې تاثيره و، ما ورته وويل چي عذر کوم، خدای ج به دي په دې ګناه نه نيسي چي ولي په دغسي حالاتو کي لمونځ لپاره مسجد ته نه ځې، مُسکی شو، ويې وويل: "هسي مي هم وژني، ښه ده چي لمانځه ته په لاره ووژل شم."
د اکتوبر ۷مه، موږ په ګډه پر افغانستان د امريکا د بريد غندنه په لويه غونډه کي وکړه، مژده صاحب ماته هر کله ويل چي ډير پام کوه، ته ځوان يې، او ډير څه بايد وکړي.
کله چي د اکتوبر ۱۱مه، پر ما بريد وشو، مژده صاحب سخت خفه و، هغه ويل چي د کوم منطق له مخي لکه د خلق او پرچم د وخت په شان پر سرې د کور مخکي بريد کيږي، د اکتوبر ۱۸مه او ۱۹مه ۲۰۱۹، د هرات امنيتي غونډې ته زه او شهيد مژده يو ځای ولاړو، دوې شپې مو په يوه کوټه کي تيرې کړي، هغه چي د غونډې د ګډونوالو منحرف کوونکي نظريات او خبرې اوريدي، ډير نا قراره و، هر ځل به يې ويل چي دا خلک ولي دروغ او د افغانستان له ځمکني واقعيتونو څخه په انحراف خبرې کوي، خدايه هغه سپيڅلی مجاهد وبخښي، جنت الفردوس يې ځای کړي، ډير ځله يې وويل چي زه ولاړيږم او د دې خلکو پر خبرو تبصره او نقد کوم.
مژده صاحب ته مي وويل:"ستاسي حيثيت تر دوی ټولو لوړ دی، د دوی په دې چټياتو ستاسي تبصره مناسب نه ګڼم، د غونډې دوهيمه ورځ زما د خبرو نوبت دی، ان شاء الله د ټولو جواب به ووايو."
کله چي ما د هرات امنيتي غونډې پر دوهيمه ورځ خبرې وکړې، زما ياد دي، خدايه هغه شهيد وبخښي، چي کله له ستيج څخه ور کښته کيدم، غيږ يې خلاصه نيولې وه، پر ما يې دواړه لاسونه وګرځول، ټينګ يې غيږ کي نيولی وم.
خدايه د هغه شهيد روح ارام لرې.
ويې ويل: "هيڅ مي په زړه کي پاتي نه شول." له لاسه يې ټينګ ونيولم، مسکی و، خوشاله و، ډاډه و، او زما لپاره هم ستر وياړ و چي د مژده صاحب تر څنګ هر وخت او هر ځای ولاړ وم. خدايه جنت الفردوس يې ځای کړي.
هغه شهيد نه پوهيده چي په موږ دوو کي به کوم يو لومړی د دښمن لخوا وژل کيږي، کله چي له سالون څخه موږ دواړه را وتلو، د هرات امنيتي غونډې اړوند راډيو او ټلويزون کسانو ماته ډير عذر وکړ چي لنډه مرکه ور سره وکړم، مګر داچي امنيتي ستونزې وې، ومي نه منله، خو بالاخره زه يې راضي کړم، کله چي هغه خبريال مخکي او


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ما غوښتل چې په ځینو کې ور پسې وخیږم، خدایه ویې بخښي، شهید مژده تر لاس ټینګ ونیولم، بیرته یې له ځینو خپل لور ته ور کش کړم، ویې ویل: "مرکه مه کوه، هیڅ سره یې مه کوه، دا خلک دي نشي زغملای، وژني دي." مګر هغه پاک او مظلوم شهید خبر نه و، چې د ده د وژلو لپاره له مخکې پټ لاسونه کار کوي، او تر ما مخکې به هغه شهید کوي.

نومبر ۲۰۱۹ په دوېمه اونۍ کې موږ ۹ تنه قطر ته ولاړو، هر چا به د شهید مژده پوښتنه کوله چې ولې په دې ډله کې نشته، تمه وه چې هغه هم ډېر ژر قطر ته سفر وکړي.

پلان و چې زه او شهید مژده په ایران کې د پوهنتون محصلینو او د ایران سیاسي مبصرینو لپاره په غونډو کې ګډون وکړو، د افغانستان د سیاسي حالاتو په اړه له هغوی سره خپل نظریات شریک او له هغوی هم واورو.

د نومبر ۱۷مه وه، مژده صاحب ته مې وویل چې کور ته درځم، هغه وویل، مه راځه، مریض یم، چې لږ ښه شم، احوال درکوم، پر سبا سهار نږدې لس نیمي بجې د مژده صاحب زنګ راغی، ویې ویل کور یې؟ ټینګار مې وکړ چې زه درځم، ویې نه منله، لږ وروسته موږ سره ناست وو، منې مې ورته کیښودې، ویل یې نه یې خورم، چای مې ورته راووړ، ویل یې نه یې څښم، د ده لپاره راکړل شوې تحفې کندهارۍ لنګۍ او کندهارۍ د کالیو غاړه مې ورته کیښودې، ویل یې نه یې وړم، هغه په عجیب انداز کې وویل: "زما وخت پوره دی، دا لنګۍ او غاړه ستا سره ښه ښکاري."

خدایه هغه مظلوم شهید وبخښي، هغه پوهیده چې خدای ناترسه قاتلانو یې کمین ورته نیولی.

د ماښام لمانځه وروسته، ډاکټر فیض محمد ځلاند او اسد وحیدي خبر کړم چې مژده صاحب له مسجد څخه تر راوتلو وروسته ویشتل شوی، زه او ځلاند په بیړه د مژده صاحب کور ته ورغلو، هلته د میرمنو ژړاوې وې، د کور په حویلۍ کې هیڅوک نه لېدل کېدل، موږ ډېر ږغونه وکړل چې پوښتنه وکړو چې مژده صاحب یې چیرته وړی، زړه مې وکړ، چې له کومې میرمنې پوښتنه وکړم، خدایه! دا څومره ظلم دی. د کور په ځینو کې د پاخه عمر میرمنې همداسې لویدلې وې او ژړل یې، هغوی له ځینو د کښته کیدو او یا پورته ختلو توان نه درلود، همله په ځینوکې یې د خپل شهید لپاره ساندې وهلې.

ما وبخښه، نشم ویلای، مژده صاحب خپل قاتلین پېژندل، خو چاته یې نه ور ښودل، هغه نه خپلې کورنۍ او نه هم نورو ته د خپلو قاتلینو یادونه کوله، یوازې همدومره یې ویل چې ما وژني، نه مې پرېږدي.

زه د شهید مژده له کورنۍ څخه بخښنه غواړم، چې د یو ملګري او دوست په توګه یې ما د کورنۍ خدمت د ببلابېلو ستونزو له امله ونه شو کولای، زه یې کله هیرولای شم، کله چې موږ استقلال روغتون ته ورغلو، غالباً د مژده صاحب وراره به و، هغه د مژده صاحب زوی احمد جاهد جان ته وویل:"تر ټولو نږدې دوست یې همدا و."

کاش ما یې حق اداء کړی وای، خدایه! د شهید مژده قاتلان رسوا او سخته سزا ورکړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ